# د محمد صديق پسرلي منتخبو شعرونو قافيوي او رديفي ورته والي جاج

# Judging the rhyming and rowing similarities of selected poems of Mohammad Siddique Pasrali

Zabihullah Zahir [1]

Dr.Sher Zaman [2]

## ABSTRACT:

*Ustad Mohammad Siddiq Pasrali is one of the great poets, if we mention the name of Kazem Khan Shida in the field of Pashto ghazal or the name of Hazrat Hamza Shinwari, the father of Pashto ghazal, then they are the poets who gave a new color to Pashto ghazal. A new update has been given. Similarly, if the poetry of Siddiq Pasrali is searched, then one knows that the poetry of Siddiq Pasrali is also worthy of mention along with such great poets. Ustad Pasarli has written sweet poetry. Each poem is worth reading. There is a lot of imagination and artistry in the poems. It is obvious that the theme of each verse of the ghazal is somewhat different from the other verse, but the general idea is almost the same. It may be similar or it may be very different, because the thoughts of the ghazals cannot be connected only on the basis of the rhyme. So, in this article, I have found out the rhyming of the selected poems of Muhammad Siddique Pasrali and also found out the rhyme.*

Key Words: Similarity rhyming, Similarity of rowing, Similarity of idea in Same Ghazal

[1] Ph.D. scholar, Pashtu Academy, University of Peshawar

[2] Assistant Professor, Pashtu Academy, University of Peshawar

استاد محمد صدیق پسرلی د لویو شاعرانو له جملې څخه دی، موږ که د پښتو غزل په برخه کښې د کاظم خان شیدا نوم اخلو او یا د پښتو غزل بابا حضرت حمزه شینواري نوم یادووو، نو دوی هغه شاعران دي چې پښتو غزل ته یې نوی رنګ او نوې تازيګي ورکړې ده، همداسې که د استاد پسرلي شاعري وپلټل شي، نو سړی پوهیږي چې د استاد پسرلي شاعري هم د داسې لویو شاعرانو سره هم ردیف د یادولو وړ ده، محمد زبیر شفیقي د غزلبڼ په سریزه کښې د محمد صدیق پسرلي په اړه وايي (( استاد پسرلي له خپل شعر په تېره غزل سره صادقانه ملګرتیا کړې ده، بس په خپله دنیا کښې بوخت پاتې شوی دی، که سره توپانونه را الوتي دي او که تور، خو پسرلي په کښې یوه ورځ هم له خپلې نړی د راوتلو هڅه نه ده کړې، نه یې د سپیره سیاست په بدنامو کوڅو کښې خپل غرور او وقار ته زیان رسولی او نه یې د ظاهري کش او فش ځلبل چیرته سترګې بریښولې، یوازې د شعر او ادب له یارانو سره یې خپله اړیکه توده ساتلې ده.)) استاد پسرلی ګڼ شمېر منظومې شعري مجموعې لري او بې شمېره غزلې، نظمونه او څلوریزې یې ویلې دي، نوموړی د خپلو شعرونو په اړه وایي: (( چې تر اوسه مې تخمیناً شل زره بیته نظمونه ویلي دي)) ممکن د عمر د وروستی برخې شعرونه چې له دې خبرې یې وروسته لیکلي په دې شمېر کښې نه وي شامل، د استاد هر شعر نوی رنګ او نوې ترکیب لري، زه چې کله د استاد شاعري لولم نو له هر بیت یې جلا خوند اخلم، هغه چې هر بیت یې یو جلا تصویر او نقشه په ذهن کښې در جوړوي.

د ښاغلي پسرلي د شاعری په ځینو ځایونو کښې شعرونه د قافیې له پلوه سره ورته دي او په ځینې ځایونو کښې یې شعرونه سره همردیفه دي، خو دا په دې معنی نه ده، چې د استاد شاعري یې بې خونده کړې ده، بلکې دا یو رنګې هم د جلا کیف نه برخمنه ده، د ګڼو نورو شاعرانو په شعرونو کښې هم د قافیو او ردیفونو ورته والی او نږدیوالی شته، خو په غزل کښې دا اړینه ده چې په هر بیت کښې به نوښت او فکري تازه والی موجود وي او دا تازګي او نوښت د استاد په غزلو کښې شته دی، استاد وايي:

ستا د ناز درشل ته لکه سیوری پټه خوله راغلم

نور مې څوک پوښتلي نه دي، نېغ د زړه په پله راغلم

شوق دي د لیدو وم پاڅولی د وږمو غونډې

خدایزده چې په سیند یم پورې وتی که په پله راغلم

یوې لومې کښې بند که وای خطا به مې د سترګو وه

واړه لار د حسن تر قفسه وله په وله راغلم

(۱)

استاد پورته غزل د مطلع موضوع په همدې ردیف یو بل غزل کښې داسې راوړل شوي ده

ستا د ناز درشل ته لکه سیوری په سینه راغلم

ګورم دې لیمو کښې زړه نما په اینه راغلم

ډېرې خاطرې مې تصور ته ټولې کړې وې

بیرته چې راتلمه د رازونو ګنجینه راغلم

درغلم محفل ته چې مسکا پېښې ورټولې کړې

نه پوهیږم څنګه دې تر پام لکه کینه راغلم

(۲)

پورته دوه غزلې د (نی کوځه) اثر په ۲۵۰ او ۲۵۱ صفحو کښې لیکل شوي دي، دواړه غزلې استاد په پېښور کښې په یوه نېټه ۲۹/ ۱۱/ ۱۳۷۳ ویلي دي، د دواړو غزلو د بیتونو شمېر اوه- اوه دی د لومړي غزل مطلع کښې د قافیې کلمې ( خوله - پله) دي او ردیف یې ( راغلم – راغلم ) دی، په همدې ترتیب د دویمې غزلې په مطلع کښې د قافیې کلمې ( سینه – اینه ) دي او ( راغلم – راغلم ) په دې غزل کښې هم ردیف راغلی دی، په همدې ډول د غزلو د نورو بیتونو ردیفونه هم یو شان دي، د خپل محبوب درشل ته په ناز راتللو خیال د دواړو غزلو په مطلع کښې یو شان دی، خو په نورو بیتونو کښې بیا خیال او فکر سره جلا دي.

په دوارړه غزلو کښې تصویر شکلی دی، د شعریت او هنریت له مخې هم عالي دي، د دواړو غزلو تولي مصرۍ په خپلو مینځونو کښې په وزن کښې برابري دي او د قافیې عیبونه نه لري، د معنی او مفهوم له مخې عشقي رنګ لري او د هر بیت خیال یې خاص دی، د استاد لاندې دوه غزلې هم همردیف راغلي دي.

بېګاه به څومره ستړې وه چې دا تله او را تله
د خیال خلوت کدې ته مې بیا بیا تله او را تله
زما د زړه تر کوره د وهمونو په ځنګل کښې
د حسن زمرۍ، وګوره تنها تله او را تله
د حسن تصور مې د فکرونو مزاحم وو
که سر ته مې نشه وه د صبها تله او را تله
سکوت یې د شفق د جزیرو وو ورمات کړی
د ناز د جهیل بطه په غوغا تله او را تله
د وصل تمنا به یې د زړه وچې بیدیا ته
یوه مسته بوربوکی شوه په نڅا تله او را تله
پسرلیه درست حواس مې یې وو زلفو کښې اوښتي
له ذهنه چې تر زړه پورې سودا تله او را تله

(۳)

پوښتنې ته مې خپله سوې ساه تله او راتله
هغه هم لکه ویره په اکراه تله او راتله
ځواني راستنه شوې وه، که یأس وم شویولی
د زړه وره ته مې نه کړې ګناه تله او راتله
د ستونې لار مې نن چې د فریاد له شې وتلې

کری شپه مې له زړه تر شونډو أه تله او راتله

درست عمر مې د ناز ملکه وريني تصور ته

راتله لکه په خوب کښې نا اګاه تله او راتله

د خوب په لار يې هم حسن بنديز اوس لګولی

پخوا به مې خوبونو کښې ګاه ګاه تله او راتله

هر خاپی يې د پلونو يوه غزل شوه پسرليه

د شعر ملکه مې څه دل خواه تله او راتله

(۴)

پورته دواړه غزلې همرديف دي، خو له يو بل يې خيال او تصوير جلادي، دا خو شکاره خبره ده چې د غزل هر بيت موضوع د بل بيت سره څه نا څه جلا والی لري، خو عمومي فکر تقريباً سره ورته وي، خو که د دوه غزلو مقايسه د رديف په اساس کيږي، نو ممکن د فکر او موضوع له پلوه سره يو څه ورته وي او يا ممکن ډير توپير سره ولري، ځکه د غزلو فکر يوازې د رديف په اساس نه شي سره تړل کيدلی، دلته د استاد د يو غزل بېلګه ګورو

چې زه او ته وو، د سين غاړه وه او شکلی بهار

تل مې تر سترګو، سترګو کيږي هغه تلٰلی بهار

چېږې ته، چېږې د ګلونو مصنوعي بڼونه

هره جلوه دې ده يو ځان ته غوړيدلی بهار

مه راته غواړه واړه عمر دلسردي د خزان

راوله، راوله نن بيا تر لاس نيولی بهار

ښايي بهار دې هم لېواله وي شپنې پښبتنې!

په غزونو، غزونو چې راغلی بهار

د حسن لمره پلوشي دي باندي وغوړوه

ما درسته شپه درته په اوښکو لمبولی بهار

(۵)

د ښاغلي پسرلي په همدې قافيې او همدي رديف بل غزل د نی کوڅې منظوم کښې اثر کښې راغلی دی پسرلي دا غزل هم د بهار په رديف ليکلی دی هغه وايي:

وښو سرونه هسک کړه ښاغلی بيا راځي بهار
چې بيا به مرور او که پخلا راځي بهار
چا وويل چې سر هم د مئينو له شامته
د وريځو په ډولی په هوا راځي بهار
(۶)

د (نی کوڅه) په ۱۷۲ او ۱۷۳ صفحو کښې د پسرلي دوه غزلې راغلي چې دواړه د ايران په تهران کې په (۲۳/ ۳/ ۱۳۷۷ نېټه ويل شوي، د لومړي غزل د مطلع د قافيې کلمې ( لار – غبار) دي او رديف يې ( ووتم – ووتم ) دی، همدارنګه د دويم غزل مطلع د قافيې کلمې ( ښاره ـ لاره ) دي او رديف ( ووتم – ووتم ) دی، د قافيو په کلمو کښې زور توپير لري او رديف د دواړو غزلو يو شان دی، همدارنګه په ځينې بيتونو کښې فکري نږدوالی هم شتون لري.

بېګاه چې بيا د زړه په لار ووتم

له ځانه ورک لکه غبار ووتم

د وصل خيال يې تخنولی وم چې

له خپله پوسته لکه مار ووتم

د خيال په پلونو مې زړه ړدول

چې د رنو ستوريو په ښکار ووتم

له کلي نه يمه ايستلی مينې

له خپل ګريوانه لکه خار ووتم

د ګل د غيرې لکه عطر د ګل

پخپلې ورکې پسې ناچار ووتم

بيخبر ناست وم بېخبر له ځانه

لکه موسم د نوبهار ووتم

سوکه، سوکه خو په ويشتلي زړګي

لکه شيبې د انتظار ووتم

پسرليه زوړ له ښاره نه شي وتای

زه د سکوت غونډې کرار ووتم

(۷)

د پورته غزل په همرديف غزل لاندې هم دی، د قافيو په کلمو کې په زور کې سره توپير دی او د سيلابو له اړخه هم توپير لري، پاس غزل ټول بيتونه لس سيلابه دي او د لاندې غزل بيتونه يولس سيلابه دي.

شور مې شا ته پرېښود چې د ژوند له ښاره ووتم

پټه خوله له ښاره لکه تللې لاره ووتم

راغلم او بيا لاړم، لکه باد سحر پوه نه شوم

راوستم د چا هوس، د چا لپاره ووتم

حل به شم په نور کښې، مختورې به مې پرېولې وي

خير، که لکه سيورې د هستې له داره ووتم

وايستم د شکليو د محفل له ذکره تېر عمر

دا دی د تسپو چړې شوم اوس له شماره ووتم

ستاسو د محفل خوښې دې خدای لرې ملګرو تل

زه که يوه نغمه شوم او د ژوند له تازه ووتم

تېزه فکر او لوړ خیال له ما څخه اوس څه غواړئ
باز به یم، خو زوړ شوم د معنا له ښکاره ووتم
تا ته به پسرلیه د خپل شعر غوره پرېږدمه
لکه شګوفه که له رنګین بهاره ووتم

(۸)

هر انداز دې نازنیني زما په زړه باندې لګیږي
کوم یو غشی د بڼو دې دی، چې نه باندې لګیږي
وله وله غشي وله، هر یو تپ دې یو تکور دی
دا منصور زړه چې څو ولې هومره ښه باندې لګیږي
ګنهګار به راته ښکاري ځان په عشق کې پسرلیه
له هر ځایه به مې سترګې ستا په وره باندې لګیږي

(۹)

ایا زړه دې هم دا غواړي چې دې بل ته نظر وکړای
په خلوت کښې چې دې سترګې آئینه باندې لګیږي

د مین د زړه په څړیکو به یې یو الله خبر وي
چې د سرو زرو امېل یې په سینه باندې لګیږي

وایي څه دې پسرلیه روغمن زړه کړغاشي غاشي
هغوی تورو ګورو زلفو چې شانه باندې لګیږي

(۱۰)

استاد محمد صدیق پسرلی د پښتو ژبې وتلی او منلی شاعر دی، ګڼ شمېر شعري مجموعې یې چاپ شوي دي، د شعري مجموعې تر څنګ یې نثري اثار هم چاپ شوي دي، د معاصرې دورې خوږ ژبی او انځوریز شاعر دی او د هندي سبک پیروی دی.



Pukhtunkhwa Journal

حوالي

١.محمد صديق پسرلی، نی کوځه، دانش کتاب پلورنځی، قصه خواني، پېښور، کال ١٣٨٧ مخ ٢٥٠
1. Mohammad Sadiq Pasarly, Nay kosa, Danish ketab ploranzi, Qasa khowni, Peshawar, 1387 page 250
٢.محمد صديق پسرلی، نی کوځه، دانش کتاب پلورنځی، قصه خواني، پېښور، کال ١٣٨٧ مخ٢٥١
2. Mohammad Sadiq Pasarly, Nay kosa, Danish ketab ploranzi, Qasa khowni, Peshawar, 1387 page251
٣.محمد صديق پسرلی، نی کوځه، دانش کتاب پلورنځی، قصه خواني، پېښور، کال ١٣٨٧ مخ١۴
3. Mohammad Sadiq Pasarly, Nay kosa, Danish ketab ploranzi, Qasa khowni, Peshawar, 1387 page14
۴.محمد صديق پسرلی، نی کوځه، دانش کتاب پلورنځی، قصه خواني، پېښور، کال ١٣٨٧ مخ١۶٨
4. Mohammad Sadiq Pasarly, Nay kosa, Danish ketab ploranzi, Qasa khowni, Peshawar, 1387 page168
۵.محمد صديق پسرلی، نی کوځه، دانش کتاب پلورنځی، قصه خواني، پېښور، کال ١٣٨٧ مخ۵٨
5. Mohammad Sadiq Pasarly, Nay kosa, Danish ketab ploranzi, Qasa khowni, Peshawar, 1398 page58
۶.محمد صديق پسرلی، نی کوځه، دانش کتاب پلورنځی، قصه خواني، پېښور، کال ١٣٨٧ مخ١٧٣
6. Mohammad Sadiq Pasarly, Nay kosa, Danish ketab ploranzi, Qasa khowni, Peshawar, 1398 page173
٧.محمد صديق پسرلی، نی کوځه، دانش کتاب پلورنځی، قصه خواني، پېښور، کال ١٣٨٧ مخ١٧٢
7. Mohammad Sadiq Pasarly, Nay kosa, Danish ketab ploranzi, Qasa khowni, Peshawar, 1398 page172
٨.محمد صديق پسرلی، نی کوځه، دانش کتاب پلورنځی، قصه خواني، پېښور، کال ١٣٨٧ مخ١٧٣

8. Mohammad Sadiq Pasarly, Nay kosa, Danish ketab ploranzi, Qasa khowni, Peshawar, 1398 page173

٩.محمد صدیق پسرلي، غزلبڼ، افغان مسلکي مطبعه کابل، کال ١٣٩٠ مخ ٥٢

9. Mohammad Sadiq Pasarly,Ghazal Ban, Afghan Maslaki Matba Kabul 1390 Page ٥٢

١٠. محمد صدیق پسرلي، غزلبڼ، افغان مسلکي مطبعه کابل، کال ١٣٩٠ مخ ٥٣

9. Mohammad Sadiq Pasarly,Ghazal Ban, Afghan Maslaki Matba Kabul 1390 Page ٥3

Pukhtunkhwa Journal